واحد فقیری هاري

واشنګټن، ۲۰۰۹/۰۳/۰۹م

# د« بوش په جنګ کي »  کره کتنه

"بوش په جنګ کي" د واشنګټن پوسټ د مشهور ژورنالیسټ او یډیټر، باب وډوارډ هغه کتاب دی چي د افغانستان د اشغال په ارتباط د متحده ایالاتو د پخواني جمهورریس جورج  بوش او د هغه د کابینې پر هغو مهمو فیصلو راڅرخي چي د متحده ایالاتو، افغانستان، عراق، او حتی ټولي منطقې د روان خطرناک، مرګاني، او نه ختمېدونکي سیاسي او نظامي بحران سره اورګانیک تړاو لري.  د افغانستان اشغال واقعا د بریښنا په منډه تر سره سو. د ملاعمر وروست امارت د  (سي اې ې) د دوو سوو افسرانو، د بي ٥٢ هیبتاکه ږغ او بمباریو،  او البته پر افغاني جګړمارانو باندي د ډالرو د وېشولو او رشوت  په زور  فقط په څو ورځو کي ړنګ سو.  د طالبانو  رژیم دغه برق اسا سقوط د بوش په اداره کي د مغرورو او سطحي نیوکان پله دونه درنه کړه چي نور نو د هغوی د "امپراتورۍ د غرور" مخه چا نسوای نیولای. ښاغلو بوش، چېني، رمزفیلډ، او حتی مېرمن رایس، او  نورو  محافظه کارانو د "شاک او اه" یا "ټکان او ډار"  د پالیسیو خبرې کولې.  بوش او د هغه سطحي همفکرانو په جهان او مینځني ختیځ کي د نظامیګري کوله، او د القاعدې او ټروریزم د سټولو غولونکي وعدې یې ورکولې.

"بوش په جنګ کي"  زما ګران او منور دوست ډاکټر نثار احمد صمد په رواني پښتو  ژباړلی دی.  زه  شخصا د ډآکټر نثار احمد صمد د فرهنګي خدمتونو قدرداني کوم او هم  مبارکي ورته وایم، او دغه راز  نور بریالیتوبونه هم ورته غواړم.  ډاکټر نثار احمد صمد  پدې تېرو څو کلونو کي پښتو ژبي ته د قدر وړ ترجمې او فرهنګي کارونه کړي دي، او  هیله من یم چي دننه او بهر د ده په شان زموږ نور لیکوالان هم د ژباړي لړۍ تعقیب او لا ګړندۍکړي، ځکه په نننۍ عصر او زمان کي د پښتو ژبي د پرمختګ او پابښت راز په بې شماره علمي، سیاسي، او فرهنګي ترجمو کي نغښتي دی.  .

که څه هم کتاب په پرله پسې توګه په کاناډا کي د " افغان رسالې" په وزینو پاڼو کي خپرېده، خو د ۲۰۰۸ د  ډسمبر په میاشت کي د افغان رسالې او " علامه رشاد خپرندویه ټولنه- کندهار" په ګډو هڅو او همت په  ٤۲۳ مخونو او دوه ویشتو فصلونو کي د مترجم او ناشر د سریزو سره یو ځای په ښه صحافت او ښکلي پښتو فانټ خپور سوی دی.

په  هر  حال، "بوش په جنګ کي" د  تحقیقاتي ژورنالیزم یوه ښه بېلګه ده.  همدا راز، د ځوانو خبریالانو او د ژورنالیزم محصلینو لپاره یوه ښه منبع هم ده.  لیکوال د خپل کتاب په سر کي لیکي:  "ددې اثر د لیکلو لپاره مي د بوش د ادارې د عالي رتبه مامورینو سره تر سلو زیاتي مرکې کړي دي، او خپله د ښاغلي بوش سره مي پوره څلور ساعته مصاحبې کړي دي."   برسېره پر دې لیکوال په سلهاوو نورو اثارو او موادو څخه استفاده کړې ده. په بل عبارت، ښاغلي باب وډوارډ پوره څېړنه او کورنی کار کړۍدی.

د کتاب بل ځانګړې خصوصیت تاریخ او کرونالوژي ده.  لیکوال د بوش د ادارې د فیصلو او تصمیم نیولو پروسه تاریخ واره  څېړلې ده.  هغه د بوش د ادارې د امنیتي مشاورانو د هغو فیصلو په باب خبري کوي چي د سپټمبر د یوولسمي نېټې د ټروریزم  څخه سمدستي را وروسته په افغانستان کي د طالبانو د رژیم د رانسکورولو تصمیم پکي نیول کیږي.  ټول کتاب د بوش د داراې پر همدغو لمړیو سلو ورځو باندي راڅرخي.

اوس چي اته کاله تېر سوي دي، د بوش د ادارې د غلطو او سطحي فیصلو عواقب په خطرناکه توګه را څرګند سوي دي.  افغانستان په ناکامه او  نارکو سټېټ بدل سوی دی.  د ښاغلي اوباما د امر مطابق د عراق له تباه کونکي اشغال څخه د امریکایي عسکرو د راتلو پروسه پیل سوېده. په خارجه وزارت کي، د مېرمن کلنټن په مشرۍ  د ایران، سوریې او نورو سره د خبرو اترو  مثبتي هلي ځلي پیل سوي دي.  په بل عبارت، د بوش د پېر پر خلاف جریان روان دی.

د کتاب لویه کمزوري د تحلیل او تجزیې نشته والي دی.  که څه هم  د واقعاتو او پېښو کرونالوژیکل اودل او اېښودل ضروري دي، خو پرته له تحلیل څخه نیمګړیتاوي د پخوا په شان پر خپل ځای پاته وي. تحلیل تاریخي او سیاسي واقعاتو ته روح،جهت، او مقصد ورکوي،ځکه  ټولي سیاسي هلي ځلي سیاسي اهداف لري.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د کتاب تر لوستولو وروسته، سړی فکر کوي چې د (سي اې ې) مشر جورج ټېنیټ د اسامه بن لادن، د عراق د عامي تباهۍ د وسلو، او د ترورېزم د خطرونو په باب تل په سوچونوکي ډوب وو. حال دا چې د سپټمبر د وحشت مسولین د فلورېډا په ایالت کي د پیلوټۍ په مکتوبو کي د طیارو چلول زده کړل. دلته یې په کلونو او میاشتو ژوند وکړ، په کورونو، ډیسکوګانو، او هوټلونو کي یې شپې او ورځې تېرې کړې، او عطا او د هغه نورو ځناورو ملګرو د جرمني له پوهنتونونو څخه ډیګرۍ لرلې.

کله چې د افغانستان د نیولو فیصله وسوه ښاغلي ټېنیټ د شمال ایتلاف جنایتکاران د امریکایي ډالرو په زور واخیستل. د "سي اې ې" لمړۍ ډله پنجشیر ته د داخلېدو سره سم پر فهیم، عارف، عبدالله، سیاف، دوستم، عطاء، او پر سلهاوو نورو جګړه مارانو او د افغانستان د دیرش کلن ناورین پر اصلي مسولینو باندي ډالر او سیاسي مشروعیت پاشي.

کتاب وایي: د بوش ادارې او (سي اې ې) غوښتل چې د افغانستان جنګ د افغانانو او عربو تر مینځ جګړه وښیي. د (سي اې ې) مامورینو پر دې ټکي ډېر ټینګار کوي چې دا جنګ باید د افغانانو او عربو ترمینځ موجوده اختلاف لا پراخ او غښتلی کړي. مګر له بده مرغه وروسته له اتو کالو څخه د بوش د بدو پالیسیو په نتیجه کي په افغانستان کي د ترورېزم پر خلاف جنګ د پښتنو پر ضد په یوه ناروا او ظالمانه جنګ بدل سوی دی. له وروستیو اسنادو څخه ښکاري چې ځینو امریکایي مامورینو د القاعدې د جانیانو په ګناه د ټولو پښتنو ځپل روا ګڼل، او همداسي یې وکړل. نن ورځ، په افغانستان کي د امریکا او ایتلافي قواوو ناکامي د پښتنو په وړاندي د هغوی د همدې خطرناکي او ناروا پالیسۍ نتیجه ښیي.

څرګنده خبره ده چې امریکایانو د سپټمبر د یوولسمي د بربریت د مسولینو مجازات او تباه کول غوښتل. بوش له همدې موجه او پراخ ملي او بین المللي قهر او کرکي څخه سوه استفاده وکړه. هغه د ترورېزم پر خلاف جنګ د اسلام او مسلمانانو پر ضد په جګړې بدله کړه. هغه په سیمه کي مذهبي افراطیت او القاعدیزم لا غښتلی او مرګانی کړ. په افغانستان، عراق، او ټوله سیمه کي یې یو داسي اور بل کړ چې اوس یې تور او لغوړن تاوو حتی د رحمان بابا تر مقبرې پوري ورسېد.

په ګرده کتاب کي ښکاري چې امریکا د افغانستان د نیولو لپاره نه کم مخکنی پلان لاره او نه هم د سپټمبر د ترورېستي حملو د مخه افغانستان د متحده ایالاتو لپاره کم خاص ستراتیژیک اهمیت لاره. د ۱۹۹۰ په کلونو کي، امریکا افغانستان سراسر هېر کړی وو. (سي اې ې) څو افغانانو ته غټ او ناشولټه موبایل ټیلفونونه ورکړي وه، او وظیفه یې د اسامه بن لادن او کاسي څارل وه. افغانستان ته توجه دونه لږ وه چې هلته امریکا خپل سفارت په کلونو کلونو تړلي پرېښود. همدا وجه ده چې د سپټمبر تر حملو را وروسته، امریکایي چارواکي د افغانستان په ارتباط دونه بې خبره دي چې د هغوی اکثره مهمي فیصلې نن ورځ ناکامه دي. په بل عبارت، د بوش د ادارې د لمړیو ورځو اشتباهاتو نننۍ فاجعه را مینځته کړه.

پدې کتاب کي د شمال ایتلاف د معامله ګریو په باب هم په کافي اندازه معلومات راغونډ سوي دي. د مسعود تر قیادت لاندي د شمال ایتلاف د افغانستان په خرڅولو او بربادۍ کي پوره ونډه لري. مسعود لکه یو سیاسي سوداګر د هر چا سره معاملې ته حاضر دی. هغه هم له روسانو، ایرانیانو، هندیانو، اروپایانو، او هم امریکایانو څخه رشوت او پیسې اخلي.

دغه راز، پدې کتاب کي د کرزي د کمزوري شخصیت په باب هم په کافي اندازه معلومات راغونډ سوي دي. کرزي لکه د کابل د منډیي جوالي د هر چا د بار وړولو ته چمتو دی. په همدې کتاب کي ښکاري چې کرزي د خپل ملت، قام، او هېواد د برخلیک په باب سرسري او معامله ګر فکر لري. هغه د مقام د ترلاسه کولو لپاره هر ډول شرایطو ته غاړه ایږدي.

په هر صورت،کېدای سي چې له ننني غمجنو واقعاتو څخه څه د عبرت درس واخیستل سي ، او اجازه ور نه کړه سي چې یو ځل بیا د افغانانو په سیاسي برخلیک لوبي وسي. که چیري د تاریخ لوست یو ولس خپلو پخوانیو اشتباهاتو ته متوجه نکړي، نو بیا تاریخ لیک او لوست د وخت ضایع کول او فضول کار دی. خو څرګنده خبره دا ده چې تاریخ ته اهمیت نه ورکول پوره ساده ګي او تباهي ده. د افغانستان معاصر تاریخ بار بار ښودلې ده چې سل په سل کي پر پردو باندي تکیه کول نه یوازي د یو سیاسي جریان او یا سیاستوال لپاره بد عواقب لري، بلکي د ولس او وطن پر خلاف هم مرګانی ګوزار دی. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de